پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۴/۰۷/۰۴

# «داکومنت»

شاو خوا ځلوېښت کاله پخوا به په افغانستان کې چا دومره د داکومنت یا اسنادو پوښتنه نه کوله. دومره یې څوک په فکر کې نه وو او نه یې پېژندل. د چا له چا سره کار نه و، ټولو خلکو په متقابل احترام سره خپل آرام ژوند کاوه.

په نړۍ اوسیمه کې د ځینو بدلونونو او حرکتونو په وجه زموږ په هیواد کې هم رنګارنګ بادونه را ولګیدل. په لومړي سر کې رنګه بادونه اوبیا تور او سپین بادونه را والوتل، ستونزې او بد بینی، شخړې او جنګونه پیل شول؛ بیا چې کله پر خلکو باندې دایره تنګه شوه، څوک د ګور د تورو تیارو میلمانه شول او نورو چې په هر لوري توان و، روان شول، تګ راتګ او مهاجرتونو ته یې مخه کړه، پردیو مېنو او دیرو ته یې د پناه په هیله ور روان شول او زما یې دقیق وخت اوس هیر دي، خو د۱۳۵۹ کال په وروستیو کې دوخت حکومت عسکرۍ ته د خلکو د لیږلو په موخه د لومړي ځل له پاره په کابل ښار کې داکومنت بازي راپیل کړه چې عامو خلکو به د «عسکر ګیرک» په نامه یادوله. په دې ډول د اسنادو پوښتنه د یوې نوې پدیدې په ډول نا څا په مخ را څرګند کړ.

مسلح عسکر او صاحب منصب به د ښار په کوڅو او واټونو کې ولاړ وو او د داکومنت یا اسنادو پوښتنه به یې کوله. داسې هم وشول چې خلکو به د اسنادو دهیریدو او په عذابیدو په وجه، شته اسناد په پلاستکي پو ښونو کې اچولي وو اوبیا به یې په غاړو کې ګرځول.

د وخت په تیریدو سره د داکومنت کیسه بیا د افغانستان نورو ښارونو ته هم پسې وغځیده. هرې خوا ته به چې تلې، داکومنت بازي وه، د اسنادو پوښتنه او.

کله چې په وطن کې را الوتلو بادونو رنګ بدل کړ او نور یې هم پسې زور واخست، ډیری هیواد والو د تللو «لارورکو لارویانو» پل پسې واخست، چا یوه آدرس ته درسیدو تکل وکړ او څوک بیا په ورکو لارو سر شول او په بې آدرسه لوري یې یوازې ددې له پاره مخه کړه چې له تندو بادونو او د جګړې له سو ځنده اورونو نه ځان او کورنۍ خلاصه کړي.




د باندې له وطن نه د داکومنت مسأله نوره هم مهمه او زوروره وه. د هر هیواد حریم ته به دې چې پښه کیښوده، لومړنۍ پو ښتنه به د داکومنت وه، سمدلاسه به د اسنادو پو ښتنه او غوښتنه کیده.

زموږ هیواد وال چې هر هیواد ته تللي، د اسنادو په خاطر له ستونزو سره لاس ګریوان شوي دي. دا چې په کوم هیواد کې څومره، په کومه بڼه، په څه ډول او ولې کړول شوي دي، هر ځای او هر وطن او لا ښایي چې زموږ ډیری هیواد وال هر یو ځان ته جلا ستنونزې او جلا کیسې ولري.

زه یې دلته یوازې یوه لنډکۍ کیسه چې د طنز په ژبه پیاوړي لیکوال فاروق عطایي د «داکومنت» تر سرلیک لاندې لیکلې ده پښتو ته را ژباړم.

دا طنز د لومړي ځل له پاره (شیرآغا) مجلی کې خپور شو. له مسکو نه خپریدونکې «شیرآغا» نومې مجله په د۱۹۹۷ م کال په سپتمبر کې خپریدل پیل کړل. زما د مالوماتو له مخې یې یوازې یوه ګڼه خپره شوه چې اوس هم زما په شخصي آرشیف کې خوندي ده. وروسته له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغه نه يي ما کومه بله ګټه و نه ليدله.
په «داکومنت» نومي طنز کي په ډېر هنرمندانه ډول دا ښودل شوي دي چي په پردي وطن کي زموږ په بې اسنادو هيواد والو څه تير شوي دي، چي ډېره سلنه يي زموږ د آواره زوريدلو هيواد والو د ترخه ژوند عيني برخه جوړووله. دا هم داکومنت:

داکومنت

ليکوال:فاروق عطايي
ژباړن: آصف بهاند
منبع:شيرآغا(په ماسکوکي مياشتنی سياسي، اجتماعي، انتقادي او... مجله)، د۱۹۹۷کال سپتمبر لومړی ګڼه،لومړی کال،لسم او يولسم مخونه.

«کاکا شيرو هم اوريدلي ووچي علي آباد ښار دی. ليدل يي چي خلک د روسيي په لوري روان دي. دی هم ځو ځلي په پاکستان کي د روسيي سفارت ته ورغی، تر څو يي ويزه تر لاسه کړه او له خپلي ميرمن پري ګل سره مسکو ته راغی.
هر څومره چي دوستانو منع کړ او ورته وې ويل چي په روسيه کي داکومنت نه درلودل لويه ستونزه ده، خو کاکا شيرو د ښاريانو په منځ کي ځان د عقل ګوډی ګاڼه، ځان يي نه پوه کاوه چي داکومنت يعني څه او ځان سره يي دا انګيرل چي داکومنت هره بلا چي وي، سرى کولای شي هغه په پيسو واخلي.
همدا چي کاکا شيرو په ماسکو کي د ګمرک تشريفاتي مراسم پر ځای کړل، لا د هوايي ډګر په سيمه کي و چي له سلام او احترام نه وروسته پوليس داکومنت ورنه وغوښتل. کاکا شيرمحمد فکر وکړ چي دا پنډ سړی د احترام په وړاندي کولو سره د ده هرکلی کوي. خپل بکسونه يي په مخکه کيښودل، په غيرو يي د ستړي مه شي په ترڅ کي څو ځلي ښکل کړ. پوليس چي څو ځلي داکومنت  ياد کړل، کاکا شيرمحمد ورته وويل:
جان کاکا!
کوردي ودان چي په هوايي ډګر کي ما ته د هرکلي له پاره راغلی يي. زه ژمنه کوم چي له هيڅ چا نه به داکومنت وانخلم، که يي اخلم يوازي له تا نه به يي اخلم. زموږ يو څو روپۍ همدا اوس د پري ګل تر ملا تړلي دي، دا به ښه نه وي چي تور سړی خپله لمن دلته جګه کړي، خدای مه کړه د کوم نا محرم سترګي پري و نه لګيږي. ته سبا همدلته اوسه، زه راځم او له تا نه داکومنت اخلم... مرداره قول اس... يوازي يي له تا اخلم...
پوليس پوه شو چي له دې نه څه نه تر لاسه کيږي، نو خپله مخه يي ونيوله. څو شيبې وروسته کاکا شيرمحمد خپل وراره وليد چي له وره نه د باندي ده ته سترګي په لاري دی. له ستړي مه شي نه وروسته په ټکسي کي کيناستل، په لاره کي يي غوږ کولي چي د داکومنت خبره ياده شوه. کاکا شير محمد غاړې تازه کړي او لکه عقل کل يي وويل:
ګوره زويه!
په اوغانستان او پاکستان کي هم خلکو ويل چي داکومنت د مهاجرينو اصلي ستونزه ده. همدا چي کاکا دې را ورسيد، په هوايي ډګر کي يي داکومنت والا پيدا کړ، افسرمه وايه، د شرافت ټوټه وه. مور دې کيني همداسي پوليس دې وزيروي...
سبا ته چي کوم داکومنت غواړم، له هغه نه يي اخلم... سودايي مه کوه.
د کاکا شيرمحمد وراره موسکی شو نور يي څه ونه ويل. وروسته له څو شيبو د خبرو په ترڅ کي بيا د داکومنت خبره ياده شوه. دا ځل نور د کاکا حوصله تنګه شوه، وې ويل:
جان کاکا!
که رښتيا راباندي وايي زه تر اوسه د داکومنت په مانا هم نه پوهيږم. ته ووايه دا څه بلا شی دی... زما سر خو يي را ډډ کړ...
کاکا جانه!
داکومنت مانا سند، يعني پاسپورت او ويزه...
ـ زويکه!
دا خو کومه ستونزه نه ده، د هر هيواد پوليس دنده لري چي بهرنيانو ته اسناد برابرکړي او که څوک غير قانوني استوګنه ولري، هغه دې د خپل هيواد سفارت ته وسپاري او خپل هيواد ته دې ولېږي. زموږ هيواد کي چي جګړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

ده، مور ته دې مؤقته اقامه راکړي. له خيره سره چې سوله وشوه خپل هيواد ته ستنيږو،زموږ يې په پردي وطن څه...
دوه ورځې وروسته چې د کاکا دمه جوړه شوه، ښارته د تګ هوس يې په سر کې پيدا شو. خپل وراره سره رينک (بازار) ته ولاړ. وراره يې چيرته تشناب ته تللی و، چې پوليس راغلل او کاکا شيرمحمد يې د داکومنت د نشتوالي په وجه د پوليسوماموريت ته بوته. وراره د تره په لټه پسې ولاړ، څو ساعته وروسته چې راغلل، هرڅه يې لوټ شوي وو.
کاکا شيرمحمد پريکړه وکړه چې نور به له کوره نه وزي. يودوه ورځې په کورکې و، چې بله ورځ نا څاپه د کور د دروازې زنګ وشرنګيده. د دروازې په دوربين کې يې وليدل چې د باندې پوليس ولاړ دي. ور يې پرانست، پوليس بيا هم داکومنت غوښتل. دوی چې څو روپۍ درلودې، هغه يې په جرمانه کې ورکړې.
څو شيبې وروسته بل پوليس راغی او بيا وريسې بل پوليس. کاکا چې ډير تنګ شو، وطن ته د تګ خيال ورته پيدا شو. هرې درګاه ته يې چې سر ښکاره کړ، چا دوتلو ويزه ورنه کړه. ورته ويل کيدل چې په ويزه دې ډير وخت تير دی، ځکه د وتلو ويزه نه درکول کيږي. که يې ويل چې اقامه راکړئ، هم يې نه ورکوله. کاکا د ژباړن په مرسته هر چا ته چې خپله ستونزه ويله، هماغه يو ځواب به يې اوريده:
دا ستا خپله ستونزه ده په موږ پوري اړه نه لري.
له کاکا شيرمحمد نه بله لار ورکه شوه، هوډ يې وکړ چې نور به چا ته دروازه نه خلاصوي. يو دوه ورځې دې کار مرسته ورسره وکړه، په دريم واريې ونيو او د پوليسو ماموريت ته يې بوته اوښه په مړه خيټه يې وواهه. دا ځل يې له مؤظفينوسره د نه همکارۍ په وجه يوه اونۍ په بند کې تيره کړه.
کاکا له ځان سره وپتيله چې په کورکې پټ شي. کله چې بيا پوليس راغلل، دی په الماری کې پټ شو. پوليس ټول کور ولټاوه، په پای کې يې کاکا په الماری کې پيدا کړ. د الماری د دروازې په خلاصولو سره پوليس له وارخطايۍ نه چغې کړې، بيا يې د پوليسو ماموريت ته بوته. دا وار ته يې د مؤظفينو د ډارولو په تور يوه اونۍ د اوسپنيزو ميلو تر شا تيره کړه.
د ژوند د شرايطو د بد والي او سړه هوا په وجه کاکا ناروغه شو او په يوه سړه شپه کې يې مرګ ته ښه راغلاست وويل.
ټولو ظاهراً انګيرله چې د داکومنت مسأله حل شوه، په داسې حال کې چې د داکومنت قصه اوس نوې پيل شوه. د کاکا ميرمن او وراره د ګورکيندونکي په لټه کې شول، خو هغه ورته وويل:
تر څو چې دا مړی داکومنت ونه لري، موږ يې نه شو ښخولای. کاکا بايد له حقوقي او طبي پلوه مړ وي. د کاکا ميرمن او وراره په ډيرو جنجالونو ډاکټر دې ته اړکړ چې مړی وګوري. ډاکټر داکومنت غوښتل. ځنګه چې کاکا داکومنت نه درلودل، مرګ يې د تصديق وړ نه و. همدا ډول بل ډاکتر او...
آخر د کاکا د ښځې حوصله پای ته ورسيده او يوه ډاکټر ته يې وويل:
دا زما ميره مړ دی که ژوندی؟
ډاکټر ځواب ورکړ:
هغه په واقعيت کې مړ دی، خو د داکومنت له مخې نه شم ويلای چې هغه مړ دی، ځکه چې ماسره په روغتون کې نه دی مړ؛ خو له ډير ټينګار نه وروسته ډاکټر حاضر شو چې د هغه مرګ تصديق کړي.
اوس حقوقي هيأت نه حاضريږي چې ووايي چې کاکا شير مړ دی. هغوی استدلال کاوه چې کاکا شير پرته له داکومنت نه مړدی او د کاکا شير دا عمل د سزا وړ دی.
په دې منځ کې د کاکا شير ميرمنې چې هر ځلې وخت پيدا کاوه د خپل ميره مخ يې لوځاوه او ليدل يې چې ميره يې له خندا ډکه خوله داسې پروت دی لکه چې په داکومنت او داکومنت بازۍ پورې خاندي.
خلاصه وروسته له يوې اونۍ کاکا بريالی شو چې مړثابت او خاورو ته وسپارل شي.
څو شپې مخکې پرې ګل خپل ميره په خوب وليد. هغه يې وپوښته چې هلته څه حال لرې؟
کاکا په ډيرې خواشينۍ وويل:
«پرې ګل جانې ډير بد حال لرم. ټول مړي يو بل سره مرکه کوي او خپلو منځو کې غږيږي، ما ته هيڅ ارزښت نه راکوي، ځکه چې زه بې داکومنته مړی يم.»

پای

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ